## مطبوعاتي اعلاميه

## د نبوت پر منهج خلافت او د امت د وحدت لپاره غږ پر وړاندې د کندهار د ابتدائيه محکمې عجيب او غيرشرعي دريځ

د کندهار ولايت ابتدائيه محکمې د حزب التحرير پر ۱۵ تنو دعوتګرانو داسې حکم صادر کړی چې؛ تر څو چې دغه دعوتګران د نبوت پر منهج خلافت ته د دعوت له عمل څخه پښېماني او ندامت ونه ښيي او توبه ونه کړي، نو تر نامعلومې مودې پورې به په زندان کې پاتې شي. دا په دې معنی ده چې د حاکم نظام تر سيوري لاندې چې څوک د اسلام بشپړ او هر اړخيز تطبيق ته دعوت کوي او هغه ته پابند پاتې کېږي، نو په ابدي حبس به محکومېږي. آن د مرکزي اسيا د تر ټولو مستبدو رژيمونو، ظالمو عرب رژيمونو او کمونيستي او سيکولر دولتونو له دې هېڅ يوه يې په تېرو ۷۰ کلونو کې د دعوتګرانو پر وړاندې دغسې ظالمانه حکم نه دی صادر کړی. هغه کسان چې دغه ډول حکم يې کړی، په ډاډ سره ويلی شو چې دوی ټول ريکارډونه مات کړي دي. ايا واقعاً فکر کوئ چې دغه ډول ظلم به هغه دعوتګران، چې د الله سبحانه و تعالی پر عدالت ايمان لري، ووېروي؟ هغه عدالت چې که په دې دنيا کې متحقق نه شي، په قطعي توګه په اخرت پر خپل مقام درېږي.

مونږ د دغې قضايي پرېکړې د غندلو ترڅنګ له هغو کسانو څخه، چې د مسلمانو دعوتګرانو پر وړاندې يې دا ډول ظالمانه پرېکړه کړې، پوښتو چې د دغه حکم اساس يې څه دی؟ د کوم شرعي، فقهي او مذهبي اصل له مخې او د کوم فرمان او داخلي عرف او قانون او آن نړيوال عرف او قانون پر اساس مو دغه پرېکړه کړې؟ ايا غواړئ په دغه ډول حکمونو مو موږ ته په مکي دور کې د اصحابو حال را په ياد کړئ چې د اسلامي دعوت په سبب يې يوازې دوه غواروي لرل؛ يا له اسلامي دعوت څخه تېرېدل او يا په سوځوونکې دښته کې تر مرګه پورې د ربړو او شکنجو زغمل!؟

د قضاوت مسند په اسلام کې خورا ارزښتناک مقام لري او هره پرېکړه يې بايد د اسلامي افکارو، احکامو او ارزښتونو په رڼا کې وشي. په دغه قضايي پرېکړه کې د نفس له هوا پرته بل څه نه ليدل کېږي. مسلمانان په حکم او قضاوت کې د انبياوو وارثين دي. نو يو قاضي څنګه کولی شي چې د دعوتګرانو پر وړاندې دغسې ظالمانه پرېکړه وکړي. موږ هغو قاضيانو ته، چې قصداً يا د جهل له مخې د اسلامي دعوت مخه نيسي، په دنيا کې له ذلت او اخرت کې له عذاب څخه انذار ورکوو او دوی بايد له خپلو دغو عملونو توبه وکړي. لکه رسول الله صلی الله عليه وسلم چې فرمايي:

**«الْقُضَاةُ ثَلَاثَةٌ: وَاحِدٌ فِي الْجَنَّةِ وَاثْنَانِ فِي النَّارِ؛ فَأَمَّا الَّذِي فِي الْجَنَّةِ فَرَجُلٌ عَرَفَ الْحَقَّ فَقَضَى بِهِ، وَرَجُلٌ عَرَفَ الْحَقَّ فَجَارَ فِي الْحُكْمِ فَهُوَ فِي النَّارِ، وَرَجُلٌ قَضَى لِلنَّاسِ عَلَى جَهْلٍ فَهُوَ فِي النَّارِ»** (ابو داود)

***ژباړه:*** *«قاضيان درې (ډوله) دي؛ يو (ډول) يې جنت ته ځي او دوه (ډوله) يې دوزخ ته. کوم چې جنت ته ځي، هغه سړی دی چې حق پېژني او پر حق حکم کوي. او هغه سړی چې حق پېژني او په حکم کې ظلم کوي هغه په اور کې دی او هغه سړی چې د جهل له مخې د خلکو قضاوت کوي هغه هم په اور کې دی.»*

د حيرانتيا خبره دا ده چې محکمې د دغو دعوتګرانو ازادي له دعوت څخه په توبه کولو پورې مشروطه کړې ده، کنه نو تر نامعلومې مودې پورې به په زندان کې پاتې شي. په حقيقت کې له شرعي نظره توبه له ګناه او حرام څخه راګرځېدل دي. ايا د نبوت پر منهج خلافت ته دعوت، د امت وحدت ته دعوت او امر بالمعروف او نهی عن المنکر حرام کارونه دي چې دعوتګران ترې راوګرځي او توبه ترې وکړي؟ تاسو ته زموږ ځواب هغه دی چې په «طه» سورت کې راغلی:

**فَاقْضِ مَا أَنتَ قَاضٍ ۖ إِنَّمَا تَقْضِي هَٰذِهِ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا** [طه:۷۲]

**ژباړه:** *«نو هر حکم چې کوې ويې کړه، ته يوازې په دې دنيوي ژوند کې حکم کولی شې!»*

د نظام ځينې چارواکي په داسې حال کې د حزب التحرير دعوت خطر ګڼي چې ملګري ملتونه، د محاربو هيوادونو سفارتونه او سياسي بنسټونه او سلګونه ظاهراً بشردوستانه انجوګانې په افغانستان کې شته دي چې په څرګند ډول د اسلامي ارزښتونو او حاکم نظام پر وړاندې فعاليت کوي او ټوله هڅه يې دا ده چې حاکم نظام د کفري نړيوال نظم لارې ته برابر کړي؛ خو له بده مرغه د دوی د فعاليت په اړه هيڅوک هم اندېښنه نه لري. څکه چې د ډالرو مېليوني کڅوړو او مالي امتيازاتو د هغوی په هکله پر سياسي بصيرت او شرعي موقف پرده غوړولې ده. لکه د ملګرو ملتونو ځانګړی استازي چې څو ورځې وړاندې وويل: «طالبان له غرونو راغلي او ... وخت نيسي چې زموږ اصول ومني.» ايا چا د دغو سپکوونکو خبرو پر وړاندې کوم شرعي دريځ غوره کړ؟ نه! په داسې حال کې چې د نظام د بقا لپاره اصلي خطر ذکر شوي موارد دي؛ خو د نظام ځينې چارواکي چې په زړونو کې يې «زيغ» دی، له دعوتګرانو سره يې دښمنۍ ته ملا تړلې، نيسي يې، تعذيبوي يې او په محکمو کې يې پر وړاندې ظالمانه پرېکړې کوي. که له دغو چارواکو سره د حزب التحرير د فعاليت او خير غوښتنې په اړه درک او د اسلام د تطبيق او اخرت په اړه اندېښنه وای؛ نو دا ډول ظالمانه او بې‌نتيجې کړنې يې نه ترسره کولې.

د حزب التحرير دعوت يو نړيوال دعوت دی چې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر فريضې په ترسره کولو سره حکام او د واک څښتنان د خلافت د تاسيس او امت د وحدت برخليک ټاکونکې قضيې ته متوجه کوي او هغوی ته د حکومتولۍ اساسي لومړيتوبونه ور په ګوته کوي. څوک چې د دعوتګرانو خير غوښتنې ته په ظلم سره ځواب ورکوي، هغوی دې پوه وي چې د تاريخ په اوږدو کې د الله سبحانه و تعالی سنت دا دي چې د ظالم قوم ځای بل قوم ته خالي کوي.

**وَإِن تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُونُوا أَمْثَالَكُم** [محمد:۴۷]

**ژباړه:** *«او هر کله چې (د الله له ميثاق څخه) مخ واړوئ، الله مو پر ځای بل قوم (نور خلک) راولي؛ هغوی به بيا ستاسو پشان (عهد ماتوونکي او ظالم) نه وي.»*

**د حزب التحرير – ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**